مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک

۲۰۱۹/۰۹/۲۵

# "د وخت ضرب که د ژوند کرب"

## ته یوه کتنه

د افغانستان د خپلواکۍ ګټلو سلم جشن ته له کوره په سفر وتلی وم. چې له سفره راغبرګ سوم، د ښاغلي اکبر کرګر کتاب "د وخت ضرب که د ژوند کرب" په پوسته کي رارسېدلی وو. په بېړه مي پرانيست او لوستلو ته ئي وجوغېدم. د (کرب) لغت مي له ذهنه وتلی وو. د قلندر مومند "درياب" مي پر را وننګاوه او پوه سوم چي ( درد، تکليف) ته وايي. ښاغلي کرګر د ايميل له لاري را څخه وغوښتل چي د کتاب تر لوستلو وروسته څه پر وليکم.

دا په مخونو نسبتاً ووړ خو په منځپانګه پوخ کتاب زما د اشنا عبدالهادي عطايي (مُلا) پر شعري مجموعه ( د وخت ضرب) ليکل سوی دئ. ټول مخونه ئي ۱۴۳ دي.خېروونکی ئي"پښتنانه مترقي ليکوال پښتونخوا" ټولنه ده او د سږ کال په اګسټ کي له چاپه راوتلی دئ. پر کتاب باندي په سر کي ښاغلي عصمت الله زهير دری مخه خبري کړي او وروسته د ښاغلي کرګر خپل بيان او څېړنه پيل سوي ده چي لومړی برخه ئي په ۸۴ مخو کي رانغښتي او دوهمه ئي د (مُلا) يوې منظومې يا حماسي ته بېله کړې او د لومړي ځل له پاره ئي څېړه کړې ده.

د وخت ضرب شعري مجموعه د عطايي (مُلا) ښکلي شعرونه دي چي وار د واره په ۲۰۱۵ ع کال خپره سوې وه او دوهم وار د" ځلاند صحاف خپرندويي ټولني" په ۲۰۱۸ ع کال له کوټي څخه د يو زر ټوکو په تيراژ په ښکلي قطع و صحافت چاپ کړې ده. دواړه چاپه را سره سته او کتلي مي دي. د عطايي (مُلا) پر شعر د زياترو لوستونکو نظر دادئ چي پر شعر ئي د " عرفاني تفکر او تصوف" سيورى پروت دئ او د شاعر له خپلي ناويلي ادعا سره سم ئي د غني خان لار په يو شکل د اشکالو پاللي ده . زه به دمخه تر دی چي د کرګر صاحب پر کتاب څه وليکم، يو وار به خپل حال لنډ درته بيان کاندم.

زه چي د ليکني او څېړني په اعتياد اخته سوی يم، څه کم پنځوس کاله پر تېر سوي دي. په دې نيمه پېړۍ کي مي د نظم و نثر د څېړني او ګروېږني ډېرو کوڅو ته مخ ور ښکاره کړی دئ.

د ژبي او ژبپوهني پر هغه اړخ مي قلم خوځولی دئ چي ليکنه ئي تخصصي پوهه نه غواړي او ما وارو کسان په دغه ونډر کي ځايېدلای سي.

د تاريخ پر پلټنه مي ځان يو څه ازمويلی دئ او داسي راته ښرګنده سوې ده چي په دې ځانګه مي لږ څه نوک ځګېدلای سي.

د شعر پر نړۍ مي هم ځان کتلی دئ او پوهېدلی يم چي د يوه بالقوه ناظم نوم راباندي اېښوول کېدای سي، خو شعر پوهنه بېل استعداد غواړي چي زه ځني بې برخي يم.

د متونو پر برابرولو او نقد کولو چي مي په اوله ورځ ځان وکوت، راته ثابته سوه چي " د يار کوسی دئ، پر يار جوړ". زه بايد دغه ځانګه پسي تينګه کړم.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څېر و لولئ

د عرفان، تصوف او فلسفي سبق ته هم کښېنستلم خو په هماغه لومړۍ ورځ مي کالي واخيستل. اوس چي کله پر هماغه کوڅه ور برابر سم، پښې مي ورږېږدي، وايم نه ګڼه ،خلک به مي ووينې چي دا خو هماغه تښتندوکی دئ چي مور پخوا ليدلی وو.

ددغه شان ځان پېژندني په صورت کي به زه د ښاغلي مُلا پر عرفاني کلام او د ښاغلي کرګر پر اشراقي تحليل څه وليکلای سم؟ هرومرو به د هغه چا کانه را سوې وي چي د ژبي د سوچه کېدو په ناروغي اخته وو او د رحمان بابا پر صوفيانه کلام ئې ځېړنه کوله. په پای کي د رحمان بابا عرفاني مقام او صوفيانه و ملکوتي کلام پاته وو او خبره ئې پر دې راڅرخوله چي رحمان بابا ولي" بېخرته فارسي ويې" کارولي دي؟

تر دې مقدماتي خبرو چي راتېر سو، ما به تر مُلا يو دوه کميسه زيات زاره کړي وي خو فرهنګي تقويم چي د يوه عصر له پاره کم (کوم) بريدونه ټاکلي دي، د هغو له مخي زه او مُلا د يوې زماني خلک يو او د ژوند په لوړو و ژورو کي کله کله مل پاته سوي هم يو. مُلا زموږ د نسل د ښکلي شاعرۍ د سر په کسانو کي ولاړ سړی دئ. زه دده پر مضمون آفريني، د رمزونو، تشبيهاتو، محاورو او وراشو پر کارولو باندي شاباسي وايم. ده رمزونه او سمبولونه يوازي کارولي نه دي، بلکي هغه د چا خبره" نڅولي ئې هم دي". دده ځيني تشبيهات به دده خپله ابداع وي خو هره يوه ئې اولسي او محيطي ريښه لري او پر ژبه باندي دده د برلاسی ښه پوخ ثبوت ګڼل کېدای سي. مُلا عجيب سړی دئ، له دغه شان استعداد سره ئې لږ شعر ويلی دئ او چي ويلی ئې هم دئ، کلونه کلونه ئې له ځان سره ساتلی دئ. ښه ډېر کلونه پخوا چي علامه رشاد(رح) امريکا ته تشريف راوړی وو، د افغانانو په يوه مجلس کي مُلا خپل دا بيت ورته واوراوه :

توبې! مره لـور دي پيدا سه، ژُهده! غبرګ زامن دي ومره
هــــلته وار د پيالي تېر ســــو، دلته پاته لا ځــــواني ده

علامه مرحوم ئې د بيا تکرار غوښتنه ځني وکړه او تر مکرر اورېدلو وروسته ئې ورته وويل :" هلکه! عبدالهادي! پر دا پښتو باندي ولي دونده زيات ظلم کوې؟" مور حاضرين هک پک سوو او فکر مو وکړ چي د استاد دغه شان ښکلی بيت ولي خوښ نه سو؟ مُلا به هم همداسي فکر کړی وو، خو د استاد مطلب چي وروسته ئې توضيح کړ، دا وو چي تاته خدای دونده ښه استعداد او عالي قريحه درکړې ده، نو ولي ډېر شعر نه وايي او د خوارکي پښتو لمنې ته ولي دغه شان ملغري او جواهر نه اچوې؟

مُلا په برنده ځواني کي د وخت سياسي او مفکوروي هښمو ور سره واخيست او ښه ډېر ئې ادو بدو کړ. دې هښمو ته ځان ورکول، هسي تصادفي خبره نه وه. زموږ د زماني ډېرو ځوانانودغو هښمو ته لبيک ووايه او هغه ئې د خپلو ملي او وطني ارمانونو د تحقق وسيله وګڼله، خو د حالاتو مسير بل لور ته کوږ سو چي بيان ئې ددې ليکني په جوړې کي نه ځايېږي.

د ځوانۍ د وخت جوړ سوي فکري چوکاټونه پر پاخه عمر باندي د چا خبره په يوه ناڅاپي (U- Turn) نسي ماتېدلای. دغه شان انساني و مدني ارزښتونه خو څه داسي واړه ځيزونه نه ول او نه دي چي د زماني سياسي دوړدوړکي (برېوکی) دې له ځانه سره يوسي. منور ماغزه تل د هغو د تحقق ارمان ته د زړه په تل کي ځای ورکوي.

من ترک عشق شاهد و ساغر نمی کنم
صد بار توبه کــــــردم و ديګر نمی کنم

د مُلا په کلام کي هغه ارمانونه ښه سم ځلېږي چي ده ورته د خپلي ځوانۍ ښې شپې وقف کړي وې او د هماغو ارمانو پر تالا ترغه کېدو ئې ښې سمې اوښکي تويي کړي دي. دا خو سو، مُلا.

کرګر صاحب پر عرفاني ادبياتو باندي د ليکني اوږده سابقه لري. ما ئې لومړۍ ليکنه چي د رحمان بابا د دوه سوه اتيايم تلين د سيمينار له پاره ئې په ۱۳۶۷ش کال = ۱۹۸۸ ع کي ليکلي وه، په هماغو کلونو کي لوستلي وه. ددې ليکني تر لوستلو وروسته راته څرګنده سوه چي د ليکني ليکوال ددغه شان ځېړنو له پاره لازمه آمادګي لري. تر هغه وروسته ده د عرفان او تصوف په باب د لويديځو پوهانو تحليلونه هم لوستي دي او زه ئې ددې ساحې برياله ځېړونکی بولم. د عرفاني ادب د ځېړني په برخه چي موږ پښتانه په مجموع کي څه ستونزې لرو، هغه زموږ د ژبي کمزورې لغوي زېرمه ده چي د عرفان د پراخو او ژورو مفاهيمو د افادې بار تر مزله نسي رسولای. پر دې کمزورتيا چي بيا د ځېړني پر وخت د سوچه پښتو ژبي اشتها سرباری سي، خبره نوره پسې پېچلې کاندې. د مثال په توګه د (اشراق) له پاره د " روښانتيا" کلمې راوړلو زما ذهن ته وار د واره د اروابناد روهي صاحب د ادبي تاريخ د دورو وېش



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

تداعي کړ چي يوه دوره ئي د روښانتيا دوره بللي ده. اشراق د روښانتيا په کلمې سره ښشېړ نسي افاده کېدلای او ښهتره به دا وي چي هماغه اشراق ئي پرځای راوړو. دغه راز مثالونه ښايي نور هم ومونډل سي. ښاغلی کرگر پخپله ليکنی ژبه کي د نورو ژبو د اصطلاحاتو او لغتونو دروازه يو مخي نه تړي، خو کله کله ئي د مفاهيو د افادې څوری مزله ته تر رسېدو پخوا له اوړی څخه لوېدلی شانته ښکاري. زما مشوره ښاغلي کرگر او ددې ساحې نورو څېړونکو ته داده چي د ژورو عرفاني او فلسفي مطلبونو د بيان په ترڅ کي دي د کلماتو د پښتو کولو چاري ته لومړۍ درجه اهميت نه ورکوي.

کرگر صاحب چي د مُلا په شعر کي له کومو سمبولونو ، رمزونو او عرفاني اصطلاحاتو سره مخامخ سوی دئ نو ددغو مفاهيمو لنډه پېژندنه ئي هم راوړي ده او د عرفان د سرلارو په آثارو کي ئي څرکونه راښوولي او په دې ډول ئي خپلي څېړني ته استنادي تاداوونه ايښي دي. د څېړني دا روش ښوونيز ارزښت لري او ګټور تماميږي.

ددې کتاب دوهمه برخه يوه پنځه دېرش مخيزه منظومه ده چي " د اشراق حماسه" بلله سوې ده. منظومه په څلورو سبقونو کي د يوه سفر بيان دئ چي دا خپره سوې برخه ئي لومړی سبق دئ. په دې سبق کي دوه کرکټرونه ( مُلا او طالب) يو له بله مکالمه کوي او تر هغې وروسته په دواړو د يوه بل سفر تياری نيسي. مُلا دا منظومه له نن څخه درو دېرش کاله پخوا ويلې ده او د نورو دريو سبقونو د ويلو وخت ئي نه دئ موندلی. منظومه د يو راز آزادشعر په قالب کي ويله سوې ده او په ويلو کي به ئي غالباً د " ځانځاني ښامار" الهامي اغېزه شامله وه. پر دې حماسه باندي کرگر صاحب ښه مغزن بيان کړی دئ او نوي خبري پکښې موندل کېږي. . زه اريان چي د ځانځاني ښامار پر ښشېړ پوهېدلو باندي تر اوسه برياليی سوی نه يم، نو ددغي حماسي د نورو سبقونو د ويلو او خپرولو تر وخته به مي د تبصرې نه کولو له پاره عذر که ډېر موجه نه وي، ښځايه به هم نه وي.

د ښاغلي کرگر کمال په دې نوي کتاب کي دادئ چي د مُلا په شعر ئي وار دواره ځان ښه مُلا کړی دئ او بيا ئي نو دده د ذهن ټولي تاخاني او بالاخاني لټولي دي او ورپسې ئي د خپل تېز ذهن او ژوري مطالعې په زور د مُلا تصوير کښلی دئ او لوستونکو ته ئي زما په خيال ښه ور پېژندلی دئ. کرگر خپله خبره او خپل برداشت زمونږ مخي ته ايښی دئ او د توافق و تخالف لار ئي د لوستونکو پر مخ پرانيستي پرې ايښې ده چي همدا روش ئي د اکاډميک چلند ښکارندويي کوي او زه ورته مبارکي وايم. غم دې خدای نه راويني.

آشاوا ـ کاناډا
۲۴ مه د سپتمبر ۲۰۱۹ ع


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ